ما له عايشې (رضي الله عنها) څخه وپوښتل: «ولې حايضه ښځه د روژې قضا راوړي او د لمانځه قضا نه راوړي؟

د معاذة (رضي الله عنها) نه روايت دی وايي: ما له عايشې (رضي الله عنها) څخه وپوښتل: «ولې حايضه ښځه د روژې قضا راوړي او د لمانځه قضا نه راوړي؟ هغې وويل: آيا ته له حروريانو څخه يې؟ ما وويل: «نه، زه له حروريانو څخه نه يم، خو پوښتنه کوم، وايي: مور به حيض کېدو نو، د روژې د قضا راوړلو امر به راته کېده او د لمانځه د قضا راوړلو امر به راته نه کېده.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

معاذة العدوية له عائشې رضي الله عنها څخه وپوښتل، نو ويې ويل: چې ولې حايضه ښځه د روژې قضا راوړي، خو د لمانځه قضا نه راوړي؟ هغې ورته وويل: ايا ته د حروري له خوارجو څخه يې؛ هغوی چې د سخت او سخت‌ګير لپاره ډېرې پوښتنې کوي؟ ما وويل: زه حروريه نه يم، خو يوازې پوښتنه کوم، هغې وويل: کله چې مور د پيغمبر په وخت کې حيض کېدو، نو مور ته به ويل کېدل چې د روژې قضايي راوړو، خو د لمانځه په قضايي راوړلو به راته امر نه کېده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3449